Social Science
AcademicJournal

ليد د ټولنيزو علومو علمي مجله
LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# د ښې حکومتولۍ اصول او د خلفای راشدينو رضی الله عنهم په دور کې يې عملي بېلګې

نوماند پوهنيار مولوي محمد الله انقيادي
اسلامي ثقافت څانګه، شرعياتو پوهنځی، ميرويس خانه نيکه پوهنتون، زابل، افغانستان
د مسؤل برېښناليک: Inqiadi0701954072@gmail.com

ترلاسه سوې: ۱۴۰۵/۰۲/۱۴ منل سوې:۱۴۰۵/۰۴/۰۵ خپره سوې: ۱۴۰۵/۰۶/۳۱ د ثبت ګڼه: LSSAJ-3-1-09 مخونه: ۲۹۹-۳۱۸

**لنډيز**

دا څېړنه د ښې حکومتولۍ اصول او د خلفای راشدينو رضی الله عنهم په دوره کې د هغو عملي بېلګې څېړي. د څېړنې اهميت په دې کې دی چې د عدالت، شورا، مشورې، شفافيت، اتفاق او امانتدارۍ په څېر د ښې حکومتولۍ اساسي اصول په تحليلي ډول بيانوي او د خلفای راشدينو رضی الله عنهم له عملي کړنو سره يې تړي. د څېړنې موخه د اسلامي شريعت له نظره د ښې حکومتولۍ د اصولو تشريح او د خلفای راشدينو رضی الله عنهم په دوره کې د هغو د عملي کېدو څرنګوالی څېړل دي. څېړنه د کتابتوني، وصفي ـ تحليلي ميتود پر بنسټ ترسره سوې او معلومات يې له قرآن کريم، نبوي احاديثو او د خلفای راشدينو د سيرت او تاريخ له معتبرو سرچينو څخه راټول سوي دي. موندنې ښيي چې اسلام د ښې حکومتولۍ لپاره جامع او متوازن اصول وړاندي کړي او قرآن کريم او نبوي سنت يې اساسي سرچينې دي. همدارنګه، د خلفای راشدينو دوره د اسلامي ښې حکومتولۍ غوره عملي نمونه ده.

**کليدي کلمې:** اصول، بېلګې، حکومت، خلفاء، عملي.

# مبادئ الحكومة الرشيد و تطبيقاتها العملي ة في عصر الخلفاء الراشدين رضى الله عنهم: دراسة تحليلية

محمد الله انقيادي
قسم الثقافة الإسلامية، كلية الشريعة، جامعة ميرويس خان نيكه ـ زابل، أفغانستان
Email: Inqiadi0701954072@gmail.com

**المخلص**

تتناول هذه الدراسة مبادئ الحوكمة الرشيدة وتطبيقاتها العملية في عصر الخلفاء الراشدين رضي الله عنهم، من خلال دراسة تحليلية تستند إلى القرآن الكريم والسنة النبوية وأقوال العلماء والمصادر التاريخية المعتبرة. وتهدف الدراسة إلى بيان أسس الحوكمة الرشيدة في الإسلام، وإبراز نماذج تطبيقها في إدارة شؤون الدولة خلال عصر الخلفاء الراشدين رضي الله عنهم. واعتمد البحث على المنهج الوصفي التحليلي والاستقرائي، من خلال دراسة النصوص الشرعية وتحليل الممارسات الإدارية والسياسية للخلفاء الراشدين. وتوصلت الدراسة إلى أن الحوكمة الرشيدة في الإسلام تقوم على مجموعة من المبادئ الأساسية، أبرزها: العدل، والشورى، والمساءلة، والأمانة، والشفافية، وتحمل المسؤولية، ورعاية مصالح الرعية، والأمر بالمعروف والنهي عن المنكر. كما أظهرت النتائج أن الخلفاء الراشدين جسدوا هذه المبادئ عملياً في إدارة شؤون الدولة، مما أسهم في تحقيق العدالة والاستقرار السياسي والاجتماعي، وحماية المال العام، وتعزيز الثقة بين الحاكم والمحكوم. وخلصت الدراسة إلى أن تجربة الخلفاء الراشدين تمثل نموذجاً رائداً للحوكمة الرشيدة يمكن الاستفادة من مبادئه في مواجهة التحديات المعاصرة..

**الكلمات المفتاحية:** المبادئ، النماذج، الحكومة، الخلفاء، التطبيق العملي.

## سریزه

الحمد لله الذي ارسل رسوله بالهدى ودين الحق ليظهره على الدين كله و جعل الهداية والنظام من رسالته والصلوة والسلام على من قال : كانت بنواسرائيل تسوسهم الانبياء كلما هلك نبي خلفه نبي ، و انه لا نبي بعدي ، وسيكون خلفاء فيكثرون . وبعد:

الله تعالی د انساني ژوند د تنظیم په موخه بشپړ نظام نازل کړی دی. حکومتولي د همدې نظام یوه مهمه برخه ده، څکه د ټولني أمنیت، عدالت، ثبات، او پرمحتګ د ښې اغیزمني حکومتولۍ له شتون سره تړاو لري. هر کله چې حکومت د عدالت، امانتداری، شورا او حساب ورکونې پر بنسټ ولاړه وي، د خلګو حقونه خوندي کیږي، ټولنه د سوکالۍ او پرمختګ پر لور ګامونه اخلي. له همدې امله په دې څېړنه کې د ښې حکومتولۍ اصول او د خلفای راشدینو رضی الله عنهم په دور کې یې عملې بیلکې څېړل کیږي. د څېړني اهمیت په دې کې ده چې د ښې حکومت ولې بنسټیز اصول لکه عدالت، شورا، شفافیت ، مشوره ، اتفاق، امانتداري په تحلیلي ډول څېړي او د خلفای راشدینو رضی الله عنهم د دورې له عملي تجربو سره یې تړي، چې په دې څېړني سره به زموږ د ټولني د پوهاوي کچه لوړه سآي او د حکومتي چارو د پرمختګ لپاره یو اساسي منهج روښانه سي. خو په معاصر وخت کې عدالت، شفافبت، او د خلکو د حقونو د ساتني موضوعات زموږ د ټولني له مهمو اړتیاوو څخه دي، چې پوره کول یې ستونزه ګڼل کیږي، چې دغه اړتیا د ښې حکومتولۍ له لاري پوره کیږي، چې دا سې اصول ولري چې د فرد او ټولني لپاره د هو ساینې او امنیت او پرمختګ تضمین کوي. چې د خلفای راشدینو رضی الله عنهم دوره د ښې حکومتولۍ د اصولو ترټولو غوره عملي نمونه ګڼل کیږي. له همدې امله د دغو اصولو علمي څېړنه او د هغوی د عملې بېلګو راټولول کولای سي چې زموږ د ټولني مهمه تړتیا تر یو حده پوري کړي. په دې څېړنه سره دغو پوښتنو ته ـ د ښې حکومتولۍ د اصولو څخه او د خلفای راشدینو رضی ا لله عنهم په دور کې د عملي بیلګو څخه مطلب څه دی؟ د خلفای راشدینو رضی الله عنهم څخه او د دوي د خلافت له دورې څخه مطلب څه دی؟ د ښې حکومتولۍ له اصولو او د هغوی له عملي بیلګو څخه د خلفای راشدینو رضی الله عنهم په دور کې څه مطلب دی؟ جواب و ویل سي.

دا څېړنه د کتابتوني وصفي ـ تحلیلي میتود پر بنسټ تر سره کیږي، چې د موضوع اړوند معلوات به د اصلي سرچینو څخه را اخیستل کیږي لکه قرآن کریم، نبوي احدیثو او د خلفای راشدینو رضی الله عنهم د سیرت او تاریخ معتبر کتابونه. خو د ضرورت په وخت کې د ثانوې سرچینو لکه اسلامي سیاست او حکومتولۍ او اداري اړوند علمي کتابونه، او معاصرو علمي آثارو څخه راټولیږي. دا څېړنه هڅه کوې چې د ښې حکومتولۍ مهم اصول د اسلامي منابعو په رڼا کې و څیړي او د خلفای راشیدینو رضی الله عنهم له دورې څخه یې عملي بېلګې وړاندې کړي تر څو د اسلامي حکومتونو د بریالیتوب عوامل روښانه او زموږ د ټولني لپاره ترې ګټور درسونه تر لاسه سي، چې په مجموع دد غو درسونو فکره د افغاني ټولني نه وه.

## د څیړني ستونزه

په اوسنۍ نړۍ کې د عدالت، شفافیت، حساب ورکوني، مشوري کولو او امر بالمعروف نه شتون د حکومتونو له مهمو ستونزو څخه ګڼل کیږي. سره له دې چې اسلام د ښې حکومت ولۍ لپاره بشپړبنسټیز اصول وړاندې کړي، او د خلفای راشدینو رضی الله عنهم په دور کې عملي سوی دي. خو د دغو اصولو او عملي بیلګو د تطبیق په اړه په افغاني ټولنه کې د عامه پوهاوي نه شتون تر داسې اندازې رسیدلی چې ځېنې مسلمانان په ښکاره ډول وایې : چې اسلام او حکومت یا سیاست ترمنځ هیڅ تړاو نسته او دوي ښه حکومت ولې هغه ګڼې چې د ډیموکراسی پر هغو اصولو ولاړه وي چې اساس یې د انسان په نیمګړي عقل سره اینبودل سوی دی، چې دا یو ستونزه ده. له همدې امله دا څېړنه هڅه کوي چې د ښې حکومتولۍ اسلامي اصول و څېړي او د خلفای راشدینو رضی الله عنهم په دور کې د هغوی عملي تطبیق روښانه کړي.

## د څیړني موخې

۱ ـ عمومي موخه د ښې حکومتولۍ د اصولو پیژندنه او د خلفای راشیدینو رضی الله عنهم په دور کې د دغو اصولو د عملي تطبیق څېړنه او تحلیل.

۲ ـ ځانګړي موخې د ښې حکومتولۍ بنسټیز اصول روښانه کول لکه عدالت، صداقت، مشوره کول، د بیت المال ساتنه، د رعیت خدمت کول، د علم زده کړې ته تشویق، انتقاد منل، امربالمعروف، شفافیت.

۳ـ د خلفای راشدینو رضی الله عنهم او د دوي د خلافت دروه پیژندنه او د دوي د ښې حکومتولۍ عملي بیلګې تشریح کول او د حکومتولۍ د اصولو سره تړاو ور کول .

## د څیړني پوښتني

۱ ـ د ښې حکومتولۍ د اصولو څخه او د خلفای راشدینو رضی ا لله عنهم په دور کې د عملي بیلګو څخه مطلب څه دی ؟

۲ ـ د خلفای راشدینو رضی الله عنهم څخه او د دوي د خلافت له دورې څخه مطلب څه دی؟

۳ ـ د ښې حکومتولۍ اصول او د هغوی عملي بیلګې د خلفای راشدینو رضی الله عنهم په دور کې څه مطلب دی؟

## د څیړني ارزښت

ښه حکومت ولۍ د هرې ټولنې د ثبات، عدالت، پرمختګ او سوکالۍ بنسټ جوړوي. اسلام د حکومتولۍ لپاره داسې اصول وړاندې کړې چې د فرد، ټولنې د مادي او معنوي ګټو ساتونکې دي، او د دغو اصولو تر ټولو غوره عملي بڼه د خلفای راشدینو رضی الله عنهم په دوره کې لیدل کیږي. د دې څېړنې اهمیت په دې کې هم دی چې د ښې حکومت ولۍ بنسټیز اصول لکه عدالت، شورا، شفافیت ، مشوره ، اتفاق، امانتداري په عملي او تحلیلي ډول څېړي او د خلفای راشدینو رضی الله عنهم د دورې له عملي تجربو سره

يې تړي. دا څېړنه د اسلامي سياسي نظام د ځانګړتياوو په روښانولو او د معاصرو حکومتونو لپاره د اسلامي ارزښتونو پر بنسټ د برياليٰ حکومتولۍ د نمونې په وړاندې کولو کې مرسته کوي. او دا څېړنه به زموږ په ټولنه کې د اسلامي سياسي فکر د بډاينې او د حکومتولۍ د اصولو د بيا راژوندي کولو او نبي حکومتولۍ په عملې برخه کې علمي ارزښت لري. له همدې امله دا څېړنه يوازې علمي او تاريخي اهميت نه لري بلکې د اوسني عصر د ټولنيزو او اساسي اړتياوو له پلوه هم خورا ارزښتناکه ده.

**تیروځیړنو ته کتنه**

د نبي حکومت ولۍ اصول او د خلفای راشیدینو رضی الله عنهم په دور کې يې عملي بيلګو اړوند موضوع خوورا مهمه ده. چي زيات جزيات يې په تيت او متفرق ډول د احاديثو، اسلامي سياسيت او د خلفای راشدينو رضی الله عنهم د سيرت او تاريخ په کتابونو کې تشريح سوي دي. د حديث او تاريخ پوهانو په خپلو کتابونو کې د نبي حکومت ولۍ د اصولو او د خلفای راشدينو رضی الله عنهم په دور کې يې عملي بيلګو اړوند بحث کړی دی. د اسلامي سياست، امامت، او حکومت ولۍ اصول يې په خپلو آثارو کې بيان کړي دي، د بيلکي په توګه، الماوردي، د چاپ کال (۱۴۰۹) الاحکام السلطانية و الولايات الدينية،) کي د حکومت د بنسټونو، د واکمن د دندو او د رعيت د حقونو اړوند تفصيلی بحث سوی دی. او همدا رنګه ابن تيمية د چاپ کال ( ۱۴۲۹ هـ ، السياسة الشرعية في اصلاح الراعي والرعية) کي د اسلامي حکومت موخي، د عدالت تأمين او د عامه ګټو ساتنه څېړول سوي ده. د خلفای راشدينو رضی الله عنهم د حکومتدارۍ اړوند تاريخې معلوما ت: السيوطي رحمه الله، چاپ کال (۱۴۳۴ هـ ) تاريخ الخلفاء، او أبي نعيم الأصبهايې، چاب کال (۱۴۱۹ هـ ) معرفة الصحابه، او علامه أثير الدين، چاپ کال (۱۴۰۷ هـ ) التاريخ الکامل، او حقاني، چاپ کال، (۱۴۴۲ هـ ) السياسة و الادارة في الاسلام، کي موندل کيږي. خو د غه څېړني په عربي ژبه دې چي زموږ ډيری افغانان له عربي ژبي سره بلدتيا نه لري، او د دې څيړنو له کتني څرګندېږي چي ډيری يې يوازي د نبي حکومت ولۍ پر نظري اصولو تمرکز کړي او يا يې يوازي د خلفای راشدينو رضی الله عنهم د دورې تاريخي پېښې بيان کړي دي، او د نبي حکومت ولۍ د اصولو او د خلفای راشدينو رضی الله عنهم د دورې د عملي بيلګو ترمنځ جامع او تحليلي اړيکه په کافي اندازه نه ده روښانه سوي. له همدې امله به اوسنۍ څېړنه په پښتو ژبه ترسره سوي چي زموږ په ټولنه کي دعامه پوهاوي زريعه سي، او په دې څېړنه کي اصول او عملي بيلګې سره يو ځای څېړل سوی او د هغوی ترمنځ جامع او تحليلي اړيکه په پوره توګه روښانه سوې ده.

**مواد او کړنلاره**

دا څېړنه د کتابتوني وصفي ـ تحليلي ميتود پر بنسټ تر سره کيږي، چي د موضوع اړوند معلوات به د اصلي سرچينو څخه را اخيستل کيږي لکه قرآن کريم، نبوي احديثو او د خلفای راشدينو رضی الله عنهم د سيرت او تاريخ معتبر کتابونه. خو د ضرورت په وخت کي د ثانوې سرچينو لکه اسلامي سياست او حکومت ولۍ او اداري اړوند علمي کتابونه، او معاصرو علمي آثارو څخه راټوليږي. د نبي حکومت ولۍ هراصل( لکه عدالت، صداقت، مشوره، شفافيت، مسئوليت أمانت ګڼل) به جلا په علمي ډول تشريح او تحليل سي. او

بيا به د خلفای راشدينو رضی الله عنهم له دوري څخه د ښې حکومت ولی عملي بيلګي او شواهد و ړاندې سې. تر څو د اسلامي حکومت ولی عملي اړخ په روښانه توګه څرګند سي.

## د څېړني موندني

### د خلفای راشدين رضی الله عنهم پيژندنه

خلفای راشدين د سول الله صلی الله عليه وسلم له وفات څخه ورسته د مسلمانو څلورو آمران دي: لکه حضرت ابوبکرالصديق رضی الله ، حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ، حضرت عثمان رضی الله عنه ، حضرت علی رضی الله عنه. لکه چي علامه ابن کثير رحمه الله ويلي : ( وکان عليُّ رابع الخلفاء الراشدين ) (ابو الفداء ، ۱۴۱۶ هـ ج ۳ ص ۲۳۹ ) ژباړه : علي رضی الله عنه څلورم د خلفای راشدينو دي .

### د خلفای رشدينو رضی الله عنهم د خلافت دوره

د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د رحلت څخه و رسته د مسلمانانو نه هېرېدونکي دوره د خلفای راشدينو رضی الله عنهم د خلافت دوره دی، چي هغه ديرش کاله وه لکه چي علامه سيوطي رحمه الله ويلي : ( الخلافة ثلاثون عاماً ) ( السيوطي ، ۱۴۳۴ هـ ص ۷۳ ) ژباړه : خلا فت ديرش کاله وو. چي دوه کاله دري ميا شتي د حضرت ابوبکر الصديق رضی الله عنه د خلافت دوره وه لکه چي علامه ابن کثير رحمه الله ويلې :( فکانت خلافة الصديق سنتين وثلاثة اشهر ) ( ابو الفداء ، ۱۴۱۶ ج ۴ ص ۲۴ ) ژباړه : د ابوبکر الصديق (رضی الله عنه) خلافت دوه کال دري مياشتي و و . د حضرت عمر رضی الله د خلافت دوره تقريبا يوو لس کاله وه لکه چي أبی نعيم أصبهاني رحمه الله ويلي : ( فکانت ولايته عشرسنين وخمسة اشهر واحدی و عشرين ليلة) (أبي نعيم ، ۱۴۱۹ هـ ص ۳۹ ) ژباړه : د ده ( يعني عمر رضی الله عنه ) ولايت لس کاله پنځه مياشتي او يويشت شبې وو . د حضرت عثمان رضی الله عنه د خلافت دوره دوو لس کاله وه لکه چي حضرت مولانا محمد يوسف کاندهلوي رحمه الله ويلي : « ولی عثمـان اثنتي عشرة سنة » ( کاندهلوي ۲۰۲۱ ص ۲۷۰ ) ژباړه : د عثمان (رضی الله ) عنه مسئوليت دوولس کال وو . د حضرت علي رضی الله د خلافت دوره دري ميشتي کم پنځه کاله وه لکه چي علامه ابن الأثير رحمه الله ويلي :(کانت خلافته خمس سنين الا ثلاثة اشهر) (أثير الدين ۱۴۰۷ ج ۲ ص ۷۴۶ ) ژباړه : د علي (رضی الله) خلافت دري مياشتي کم پنځه کال وه .

### د ښې حکومتولی اصول

ښه حکومتولی د هرې پر مخللي او با ثبات ټولني بنسټ ګڼل کيږي. چي اسلام د عدالت، مشوري، حساب ورکوني، امانتداری او د خلکو د حقونو د ساتني له لاري د ښې حکومتولی اصول روښانه کړي دي. چي د خلفای راشدينو رضی الله عنهم دوره د دغو اصولو د عملي کړنو غوره بيلګه ده، چي د اسلامي حکومتداری بريالی او روښانه نموني يې وړاندي کړي دي. له همدې أمله د ښې حکومت ولی د عملي اصولو څېړنه د اسلامي سياسي نظام د ښه درك او زموږ د معاصرې ټولني د اصلاح لپاره ځانګړی اهميت لري. چي دغه اصول او عملي بيلګې به په علمي ډول د الله تعالی په توفق سره وڅيړل سي

**مشري (مشر توب ) مسئولیت ګڼل نه امتیاز**

په اسلام کې مشري او واک د عزت او مقام تر څنګ یو ستر امانت او د روند مسئولیت ګڼل کیږي. مشر د خپلو تر لاس لاندې کسانو د چارو د سمبالښت، د هغوی د حقونو د ساتنې او مسئولیتونه و مستحقو خلکو ته سپارلو مسئول ګڼل کیږي؛ لکه چې الله تعالی جل جلاله فرمایلي: (ان الله یأمرکم ان تؤدوا الامانات الی اهلها ) (النسآء: ۵۸) ژباړه: بیشکه الله تاسو ته امر کوي چې امانتونه خپلو مستحقو ته وسپارې.) مولنامحمد شفیع رحمه الله د دې ایت کریمه په تفسیر کې ویلي: چې ( د حکومت منصبونه د الله تعالی امانتونه دي.) (محمد شفیع، ج۲ ص ۷۱) او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (کلکم راع و کلکم مسئول عن رعیته ) البخاري(۱۴۰۲ه) ج ۲ ص ۲۰۲۲)، ژباړه: تاسو ټول ساتونکي یاست او له خپل رعیت ( ترلاس لاندې کسانو) څخه به پوښتل کیږی.

مشري مسئولیت ګڼل نه امتیاز عملي بیلګه د خلفای راشدینو رضی الله عنهم په دور کې

کله چې حضر ابوبکر رضی الله عنه د مسلمانانو خلیفه وټاکل سسسو نو منبرته د خطبه لپاره پورته سو چې د خطبې یوه برخه یې علامه ابن کثیر رحمه الله را نقل کړي( خطب ابوبکر فقال : والله ؛ ما کنت حریصا علی الاِماة یوما ولا لیلة قط ، ولا کنت راغبا فیها ، ولا سألتها الله في سر ولا علانیة ؛ و لکنني اشفقت من الفتنة ، ومالي في الاِمارة من راحة ، والقد قُلدت أمرا عظیما مالی به من طاقة و لا ید الا بتقویة الله ) ( السیوطي ۱۴۳۴ هـ صـ ۱۵۳ ) ژباړه : ابوبکر رض الله عنه وعظ وکړ او ویې ویل: په الله قسم، زه هیڅکله د یوې ورځې یا شپې د مشرۍ لپاره لیواله نه یمه، نه مې په پټه یا ښکاره ډول له الله څخه غوښنته کړې ده، بلکه زه د فتنې څخه ویره لرم ، زه په مشرۍ کې هیڅ راحت نه لرم ، ما ته یو لوی کا ر سپارل شوی دی ،او زه د دې کار د کولو لپاره هیڅ ځواک یا وړتیا نلرم پرته له دې چې د الله له قدرت څخه یې تر سره کړم. داوینا د هغه چا ده چې علي رضی الله د هغه په اړه ویلي: (خیر هذه الأمة بعد نبیها أبوبکر و عمر) د دې بهترین له نبي څخه ورسته ابوبکر او عمر دي. که زموږ په افغاني ټولنه کې د حکومت مشران مشري یو ستر الهي امانت او مسئولیت و ګڼي: نو په ټولنه کې عدالت تأمنیږي، د خلکو باور زیاتیږي د نظام استحکام او پرمختګ سبب کیږي.

**د الله رب العزت څخه د ویري عملي بیلګه**

د ښې حکومت ولۍ یو اصل دادی چې مسئولین به یې د الله تعالی څخه ډیره ویره لري امام سیوطي رحمه الله وایې : أبو احمد الحاکم له معاذ بن جبل څخه روایت کوي چې هغه و ویل : چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه یوباغ ته ننوتی، او هلته دیوي وني په سوري کې په یوه ځانګه کې مرغی وه چې آواز یې وکړی، نو ابوبکر الصدیق رضی الله عنه و ویل: ته بختوره یې أي مرغی، ته دوني څخه خواړه خوري، او له ونی سیوری اخلي، او له حساب څخه خلاصه یې، کاش چې ابو بکر ستا په شان وای له حساب څخه خلاص وای ( السیوطي ، ۱۴۳۴ صـ ۲۰۰ ) دا د هغه کس د الله تعالی څخه د ویري بیلګه

ده چي د هغه په اړه رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: (لوكنت متخذا خليلا لاتخذت ابابكر خليلا) طقوش (۱۴۳۲ه) ص۱۴ ) ژباړه: (كه ما د خپل ځان لپاره خليل ټاكلای خامخابه مي ابوبكر ټاكلی وای)

**د عدالت اصل**

د ښې حکومتولۍ د عمومي اصولو څخه يو هم عدالت دی، چي په لغت کي استقامة ته وايې: او په شريعت کي پـر حقه لاره ټينګ د ريدل او په دين کي له منعه سوو شيانوځان ساتل ته ويل کيږي، لکه چي علامه جرجاني رحمه الله فرمايلي: ( العدالة: في اللغة الاستقامة، و في الشريعة: عبارة عن الاستقامة على طريق الحق بالاجتناب عما هو محظور دينه، (الجرجاني، (۱۳۰۴ ) ص ۱۲۴، (۱۴۳۲) ص ۱۹۱) ژباړه: عدالت په لغت استقامت او سمه لار نيول. په شريعت کي په حقه لار ټينګ پاتي کيدل او له هغو کارونو ځان ساتل چي په کي منع وي. عدالت د الله رب العزت حکم دی لکه چي الله تعالی ويلې: (اِنَّ اللَّهَ يَاْمُرُكُمْ بِالْعَدْلِ وَ الْاِحْسَانِ ) النحل ۹۰) ژباړه: بيشکه الله تعالی د عدالت او نيکی امر کوي.) او همدارنګه الله تعالی فرمايلي: (اِعْدِلُوْا هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوَا ) المائده، ۸) ژباړه: عدالت وکړی، چي همدا تقوا ته ډير نږدې دی.) د دې ايت په تفسير کي قاضي ثناء الله او سمرقندي رحمهما الله ويلی: (امر بالعدل، هو ضد الجور، مظهري،(۱۴۲۵هـ) ج ۳ ص ۹۴، السمرقندي، (۱۴۱۳هـ) ج ۱ ص ۴۲) ژباړه: الله تعالی امرپه عدل سره کړی او عدل د ظلم ضد ده .

د عدالت د اصل لپاره عملي بيلګي د حضرت أبوبکر، عمر، او علي رضی الله عنهم د خلافت په دوره کي

کله چي حضرت علي رضی الله عنه و صفين ته تلی يوه زغره يې ورکه سوه چي د صفين له طرفه څخه راغلی نو خپله زغره يې د يو يهودي سره وليدل چي کله يهودي له ورکولو څخه منکر سو، نو علی رضی الله عنه يهودي د وخت قاضي حضرت شريح رحمه الله ته ور وستی او علي رضی الله عنه د قاضي شريح له څنګه کښينستی او ويې ويل: چي که دی مسلمان وای زه به بيا ستا څنګ ته نه وای کښينستلای، خو د دوی په اړه له رسول الله عليه وسلم فرمايلي :« اذا كنتم و اياهم في طريق فاضطروهم الي مضايقه » ژباړه : که تاسو او دوی (يعني اهل ذمه ) پرلاره واست ، نوتاسو (يعني مسلمانان) دوی و تنګی ته مجبوره کړی . نو بيا علی رضی الله عنه خپلي خبري شروع کړي چي دا زغره چي له يهودي سره ده هغه زماده نه مي پر ده خرڅه کړي او نه مي ور ته هبه کړي ده، شريح رحمه الله نصراني ته و ويل: د اميرالمومنين په خبرو کي څه وايې ، يهودي و ويل چي دا زعره زماده د علي رضی الله عنه نه ده، شريح قاضي علي رضی الله عنه ته وکتل او و يې ويل: أی امير المومنين شاهدان لري پر دي چي دا زغره ستاده ، علی رضی الله عنه وخندل چي زه شاهدان لرم يو قنبر او بل حسن رضی الله عنه دی، نو شريح ورته و ويل چي د زوی شاهدي د پلار په حق کي نه قبليږي ، نويې فيصله وکړه چي زغره د يهودي ده ، نو يهودي زغره وا خيسته يو څه ولاړی بيرته را وګرځيدي ، ويې يل : چي زه شاهدي وايم چي داسي فيصلي د انبياء عليهم الصلوة والسلام وي ، چي اميرالمومنين يو څوک قاضي ته راولي او قاضي فيصله پر اميرالمومنين وکړي ،

نوپه دي عادلانه فیصلي سره یهودي په اسلام مشرف سو ولله الحمد ، اوعلي رضی الله عنه ته یې و ویل: چي وأن الدرع درعک ، زغره ستاده أی علي رضی الله عنه (أبو الفداء ۱۴۱۶ ، هـ جـ۴ صـ۳۹۱، السیوطي، ۱۴۳۴، هـ صـ۳۰٦) د حضرت عمررضی الله عنه او حضرت أبی بن کعب رضی الله عنه په منځ کي دخورما پریوه درخته جنجال وسو، و روسته یې حضرت زیدبن ثابت رضی الله عنه فیصله کونکی وټاکی چي کله دوی ورغلو، نوعمر رضی الله عنه ورته و ویلي چي موږ ته فیصله کونکي ټاکلی یې، زه په خپله درته ځکه راغلي یم چي قانون دادی چي کوم څوک فیصله کونکی وي هغه ته به ته په خپله ورځي ، په داسي حال کي چي حضرت عمر فاروق رضی الله عنه امیرالمومنین وو، نو حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه امیرالمومنین رضی الله عنه پرخپله بستره کینستل غوښتل، دایې وویل ای ! امیرالمومنین دلته کښینه ، عمررضی الله عنه ورته وویل چي دادي اول ظلم دی زه باید له جانب مقابل سره یو ځای کښینم ، بیانوحضرت أبی ابن کعب رضی الله عنه خپله دعوه وړاندي کړه چي حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د هغې دعوي څخه انکار وکړی ، حضرت أبی رضی الله عنه ته حضرت زید رضی الله عنه و ویل : چي د قانون مطابق که مدعي شاهدان و نه لري او مدعی علیه منکر وي نو انکار کونکی به قسم کوي ، خو زه تاته عذر کوم چي أمیرالمؤمنین ته د قسم کولو تکلیف مه ورکوه ، اوزه د امیر المومنین پرته د بل چاد پاره دا غوښتنه نه شم کولای ، خو حضرت عمر رض الله عنه دا رعایت قبول نه کړو نو قسم یې وکړی ، او و یې ویل : چي حضرت رید رضی الله عنه د صحیح فیصلي والا هغه وخت جوړیدای شي چي کله حضرت رضی الله عنه او یو عام مسلمان د هغه په نز د برابر وي. حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه فرمایلې: چي حضرت ابوبکر الصدیق رضی الله عنه د جمعي په ورځ وفرمایل: کله چي سهار سي نو د صدقي اوښان ماته راولی! موږ یې تقسیموو! اوموږته دې دي ځای ته بې له اجازي څوک نه راځي، یوي ښځي خپل خاوند ته و ویل چي داپړی واخله ! کیدای سي چي الله عزوجل موږته هم یواوښ راکړې، نوهغه نفرلاړی او وي کتل چي حضرت ابوبکر او عمر رضی الله عنهما په او ښانوکي ګرزي، نودی هم هغه ځای ته ورغلی، کله چي حضرت ابوبکر رضی الله عنه دی، نو ورته وی فرمایل : ته ولی بي اجازي راغلی یې؟ بیا یې د هغه نفرله لاسه پړی واخیستی او په هغه پرې یه و واهه، خو کله چي حضرت ابوبکرالصدیق رضی الله له تقسیم څخه فارغه سو هغه نفریې را و غوښتی او هغه پړی یې ورکړی ورته وي فرمایل: چي ته خپله بدله له ماڅخه واخله ! خوحضرت عمر رضی الله عنه ورته وویل: چي په الله جل جلاله قسم هغه به ستا څخه هیڅ کله بدله وانه خلي ته دا مستقل عادت مه جوړوه ! چي کله د مسلمانانو امیریو چاته د هغه دپوهولو په خاطر سزاورکړي اوهغه دي ببرته بدله ځیني اخیستلاي سي ، حضرت ابوبکر رضی الله عنه و فرمایل: چي مابه د قیامت په ورځ د الله جل جلاله نه څوک بچ کوي ؟ حضرت عمر رضی الله عنه و ویل: چي ته دی راضي کړه ده ته یوځه ورکړه ، نوحضرت ابوبکر رضی الله خپل غلام (مریي ) ته و ویل : چي ته ماته یو اوښ ، د هغه کجاوه ، یوه کمپله ، او پنځه دیناره راوړه ، نو دا ټول شیان یې هغه کس ته ورکړو هغه یې راضي کړی (کادهلوي، ۲۰۲۱ هـ صـ ۱۷۰ ) په دي

حضراتو کي د الله تعالی ویره زیاته وه، پرقیامت پوره بارولرونکي وو، نوځکه په دي فکر کي و چي که د الله رب العزت په دربار کي د دې پوړي د وهلو پوښتنه راڅخه وشي نو څه ځواب به وایم . دغه اصل زموږ په اوسنی ټولنه کي کم رنګی دی، چي زموږ د مسلمانانو د ویاړ او اسلامي نظام د استحکام لپاره دغه بیلګي د کامیابی، پرمختګ او د خلکو له نظام څخه د رضایت یو بهترین منهج دی، چي په نظام کي عملي سي.

**د صداقت اصل**

د صدق د لغوي معنی په اړه امام جرجاني رحمه الله وایې: (الصدق لغة: مطابقة الحکم للواقع،) ژباړه: په لغت کي: د خبرو او حکم د واقعیت سره سمون ته صدق ویل کیږي. او د صدق اصطلاحي معنی په اړه امام قشیري رحمه الله وایې: قال: القشیری الصدق ان لایکون في أحوالك شوب، و لا في اعتقادك ریب، و لا في اعمالك عیب) جرجاني: (۱۴۰۳، ص ۱۱۳) ژباړه: صدق دادی چي ستا په حالاتو کي دوکه نه وي، په عقیده کي شک نه وي او په عملونو کي عیب نه وي. الله تعالی جل جلاله د صدق په اړه ویلي: (یَا أَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوْا اتَّقُوْا اللَّهَ وَکُوْنُوْ مَعَ الصَادِقِیْنَ) التوبه، ۱۱۹) ژباړه: أی مومنانو! له الله څخه و وسریږئ او له رښتینو خلکو سره اوسئ.) همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: (علیکم بالصدق، فإن الصدق یهدي الی البر، و إن البر یهدي الی الجنة )ژباړه: پرتاسو رښتینولي لازمه ده؛ ځکه رشتینولي نیکی ته لاره هواره وي او نیکي نیکي جنت ته رسوي.

د صداقت اصل لپاره یوه عملي بیلګه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د خلافت په دوره کي کله چي له حضرت ابوبکرالصدیق رضی الله عنه سره مسلمانانو بیعت وکړي نو دی و منبرته د لومړنی خطبي ویلو لپاره پورته شو ، چي د هغي خطبي په یوه رخه کي یې داسي و ویل : چي رشتیا ویل أمانت دی او دروغ ویل خیانت دی. یعني: هیڅ وخت به د یوې موضوع په باره کي خلاف درته و نه وایم ، بلکه صادق او صریح به یم ، په معلوماتو او اخباروکي به اړول او مخالفت نه وي نو ځکه یې و ویل : الصدق أمانة والکذب خیانة ( السیوطي، ۱۴۳۴، هـ صـ ۵۳. ) رښتینولي (صدق) د مؤمن د شخصیت اساسي ځانګړنه ده. رښتینی مسلمان هغه دی چي په نیت، وینا، او عمل کي رښتینی وي او د هر ډول د روغو، دوکي، او منافقت څخه ځان وساتي. که د مسلمانو حاکمان د رښتینولی صفت په ځان کي را ولي، نو لاندې ګټي به ولري، لکه د الله تعالی رضا ترلاسه کول، جنت ته د رسیدو لاره، د خلکو اعتماد او باور پر حاکم او نظام زیاتیدل، د زړه سکون او اطمنان، د ایمان پیاوړتیا، د دعا دقبولیت سبب، له نقاق څخه ژغورنه، په دنیا کي عزت او ښه نوم، د قیامت په ورځ لوړه درجه، د ټولني اصلاح. حضرت ابوبکر رضی الله د خپل مسئولیت په دور کي دغه اصل عملي کړی دی. چي نن هم د ده خلافت د مسلمانانو د برم یوه ستره نمونه ګڼل کیږي.

**د مشوري کولو اصل**

د اسلام د سیاسي نظام اصل شورا دی: یعني په حکومت کي به شورايي نظام حاکم وي او په هره يرخه کي به د اهل علم کسانو سره مشوره کيږي لکه الله تعالی چي خپل رسول الله عليه وسلم ته فرمايلي: ( وشاورهم في الامر)(ال عمران ۱۵۹) ژباړه: په دنيوي چارو کي د دوی سره مشوره وکړه. همدارنګه په بل ځای کي د مسلمانانو صفت بيانوي چي د دوی ټولنيز تعامل په مشوره کولو ولاړ دی، الله جل جلاله فرمايي: ( و امرهم شورا بينهم ). الشورا ۳۸) ژباړه يعني د دوی کارونه په خپل منځ کي په مشوره سره دي. او همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: ( ماشاور قوم اِلاَّ هُدُوا لِاَرْشد أَمرهم ) ابن ابي شيبه، ( ۱۴۲۵ هـ) ج ۵ ص ۲۹۸ ) ژباړه: يعني هغه قومو چي د خپلو مهمو کارونو له پاره مشوره کړې حتما کامیابه سوي دي.

د مشوري کولو اصل لپاره عملي بيلګه د حضرت ابوبکر الصديق رضی الله عنه د خلافت په دور کي حضرت قاسم رحمة الله عليه فرمايلي : چي کله به حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته څه مسئله پيښه وه چي په هغې کي به يې د مشوري له اهل خلکو او اهل فقه سره بايد مشوره کړي وای ، نو د مهاجــرو او انصارو څخه به يې حضرات صحابه کرام را غوښتل او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ، حضرت عثمان رضی الله عنه ، حضرت علي رضی الله عنه ، حضرت عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه ، حضرت معاذبن چبل رضی الله عنه ، حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه ، حضرت زيدبن ثابت رضی الله عه به يې هم راغوښتل ، بيا به يې مشوره ورسره کول (کاندهلوي هـ ۲۰۲۱ ص ۱۰۷ )

او همدا ډول د امين الأمة حصرت أبوعبيده رضی الله عنه چي کله د شام والي و ، نو دی رضی الله عنه له هغو قائدينو څخه وو چي ډيره مشوره به يې کول لکه چي دکتورسيدبن حسين العفاني رحمه الله د أبوعبيده رضی الله عنه په اړه فرمايلي : ( ولقد کان رضی الله عنه من القادة الذين يستشيرون رجالهم في کل خُطْوةٍ يخطونها ) ( العفاني ۱۴۱۷ هـ جـ۳ صـ ۵۱۳)ژباړه: په يقيني ډول دی رضی الله عنه لع هغه مشرانو څخه وو چي پر هر ګام يې مشوره کوله. که په افغاني ټولنه کي د مسلمانانو د اوسني دور حاکمان که د مشوري کولو اصل د خپل حاکميت په دوران کي عملي کړي نو ډيري زياتي ګټي به ولري لکه د اسلامي لار ښوونو پلي کول، سمې پريکړې ته رسيدل، د تيروتنو مخنيوی، د خلکو د ګډون احساس، د يووالي او ورور ګلوی پياوړتيا، د هدايت او رشد سبب، د استبداد مخنيوی. او دغه د مشوري کولو اصل حضرت ابوبکر او أبوعبيده رضی الله عنهما د خپل مسئوليت په دور کي عملي کړی دی.

**علم ته ترغيب او هڅوني اصل**

علم په اسلام کي ډير لوړ مقام لري، او خلکو ته د علم زده کړي ته هڅونه د انبياوو، علماوو، او مصلحينو له مهمو دندو څخه ده. اسلام د جهل بر ځای علم او د ناپوهی پر ځای پوهه خپرول غواړي. په قرآن کريم کي علم ته هڅونه، يو خو رسول الله صلی الله عليه وسلم د علم د زيات والي په غوښتنه امر سوی، لکه چي الله تعالی فرمايلي:( قُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا) طه، ۱۱۴) ژباړه: او ووايه: اې زما ربه! ماته لا زيات علم راکړه. د دې ايت په تشريح کي علامه ابن حجر رحمه الله وايي:( چي دغه ايت د علم پر فضيلت واضح د ليل دی)

العواضي (۱۴۳۶هـ) ص ۱۰ ). او بل علم ته حکمت او خیر کثیر ویل سوی، لکه چي الله تعالی فرمایلي:( وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فقد أُوْتِيَ خَيْرًا كَثِيْرًا) البقره، ۲۶۹ ،) ژباړه: چا ته چي حکمت ور کړل سو یقینا ډېر لوی خیر ور کړل سو. د حکمة ابن عباس رضی الله عنه ویلي:( الحكمة هي علم القران)، النسفي(۱۴۴۰هـ) ج۳ص ۳۹۱. الجزائري( ۱۴۱۰هـ)ج۱ ص ۲۶۱ ) ژباړه: حکمة د قران علم ده . او همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم د علم فضیلت اړوند فرمایلي: ( من سلك طريقا يلتمس فيه علما سهل الله له به طريقا الى الجنة) ژباړه: څوک چي د علم د تر لاسه کولو لپاره یوه لاره و نیسي، الله تعالی به د هغه لپاره د جنت لاره اسانه کړي. ملاعلي قاري رحمه الله تعالی وایي: چي له دې حدیث څخه معلومه سوه چي هره د علم لار د جنت لارده.(علي القاري، (۱۴۲۲هـ) ج ۱ ص۴۶۸)

علم ته د ترغیب او هڅوني اصل عملي بېلګي د حضرت عمر او علي رضی الله عنهما د خلافت په دور کي حضرت ابو طفیل رحمه الله فرمایي : چي حضرت علي رضی الله عنه به فرمایل : چي پیغمبرانوته تر ټولو نیز دې هغه کس دی څوک چي د هغوی په راوړل سوي دین باندي له ټولو نه زیات پوهیدونکي (یعني عالم ) وي(کاندهلوي ۲۰۲۱ هـ جـ ۲صـ۶۵۹)

حضرت عمر رضی الله عنه به د لښکر امیرانو ته دا خط لیکلو چي د دین پوهه حاصلوی ، ځکه چي اوس اسلام خپور سوي دی ، او خپرونکي یې ډېر دي ، نو اوس د ناپوهی څه عذر نه دی پاته شوی ، که اوس څوک حق باطل ګڼلو سر پرېږدي ، یا باطل د حق ګڼلو په وجه وکړي ، نودی معذوره نه بلل کیږي بلکي د نه زده کړي په خاطر به ده ته سزا ور کول کیږي ، (کاندهلوي ۲۰۲۱ هـ جـ ۲صـ۶۵۷ ) د اسلام له نظره علم د انسان د هدایت، اصلاح او پر مختګ بنسټ دی. له همدې امله علم ته بلنه ورکول، د زده کړي زمینه برابرول او خلګ علم ته هڅول یو شرعي او ستایل سوی عمل دی. هر مشر، عالم او مسؤل باید د علم د خپرولو او د خلکو د پوهولو هڅه وکړي؛ ځکه د علم خپرېدل د فرد او ټولني په اصلاح کي مهم رول لري. د حضرت عمر او علي رضی الله عنهما په خلافت کي علم ته د هڅوني عملي بیلګي ذکر سوي، چي زموږ په ټولنه د شي حکومتولي لپاره د دې اصل عملي کولو ته لا ډېر ضرورت دی؛ ځکه چي زموږ په ټولني کي د سواد کچه کمه ده، نو د مسئولینو په هڅونه سره کیداسي چي علم، سواد کچه لوړه سي.

## د رعیت خدمت او د هغوی په حالاتو د ځان خبروني اصل

د رعیت خدمت د اسلامي حکومتولی له مهمو اصولو څخه دی. په اسلام کي مشري او واکمني د عزت، امتیاز، او واک ښودلو و سیله نه، بلکه یو ستر امانت او مسؤلیت ګڼل کیږي. حاکم، مشر او مسؤل مکلف دی چي د خلکو د دیني، ټولنیزو او اقتصادي ګټوساتنه وکړي او د هغوی ستونزو ته رسیدنه وکړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:(كلكم راع وكلكم مسئول عن رعيته ) البخاري(۱۴۰۲ه) ج ۲ ص ۲۰۲۲) ژباړه: تاسو ټول ساتونکي یاست او له خپل رعیت (ترلاس لاندې کسانو) څخه به پوښتل کیږی.

د رعیت د خدمت کولو اصل عملي بیلګه د حضرت ابوبکر او عمر رضی الله عنهما د خلافت په دور کي

د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په همسایګانوکي ځیني سپین سري ښځي وي چي خاوندان یې شهیدان یا مړه سوي وو ، نو حضرت ابوبکر رضی الله عنه به پر دغه کورنیو ګرځېدی د چا به یې میږي او بزي ورلوشلې ، د ځینو به یې ډوډی ورپخولې او ځینو ته به یې اوبه راوړلې، چي کله حضرت ابوبکررضی الله عنه د مسلمانانو خلیفه وټاکل شو نو د ده ترغوږه دهغو سپین سرو ښځو له طرفو چي ده یې خدمت کاوی د حسرت او نا امیدی اوازی ور ورسیدلې ، هغوی به ویل : چي له نن څخه ورسته موږ دهغه صالح سړي له خدمت څخه محرومه شو او یا به دی رضی الله عنه د خدمت وخت نه کړي پیدا، مګر حضرت ابوبکررضی الله عنه چي کله درسول الله صلی الله علیه وسلم خلیفه وټاکل شو بیا یې هم یوه ورځ د هغو کورو څخه چي دی خدمت ته ورتلی د یوه کور دروازه یې وټکوله چي کله دروازي ته کوچنی راځي وایي ! مور ! زموږ د میږو لوشونکي دی ، د کوچنی مور چي کله دروازي ته وره غله د خلیفة رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوبکرالصدیق سره مخامخ شوه ، ښځي خپلي لورته مخ ورواړاوه په شرم او خجالت سره یې و ویل : ویحکِ ولي داسي نه وایې : چي خلیفةَ درسوالله دي . ( علمي ۱۳۹۱ هـ ۴۲ ). او حضرت عمر رضی الله عنه به د شپي ګرځېدی د خلکو حال به یې معلوموی تر څو چي یوه قافله راغله د مدیني منوره څخه بهر یې خیمي ودرولي ، نو حضرت عمر رضی الله عنه له ځان سره حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ملګری کړی کله چي دوی قافلي ته نژدي کښینستل بیا حضرت عمر رضی الله عنه خپل ملګري ته و ویل چي دغه پاتي شپه به دلې تیره کړو د خپلو میلمنو څارنه یا پیره به کوو . دوی دوه ناست وه چي د یو کوچني ماشوم ژړا یې واوریدل ، حضرت عمر رضی الله عنه لږ وخت انتظار وکړی چي ښایي ماشوم چپ شي ، مګر کوچنئ پرله پسي ژاړي ، حضرت عمر رضی الله عنه په تلوار د ژړا طرفته ورغلی ، کله چي هلته ور نژدي شو وایې وریدل چي د کوچني مور پر کوچني باندي قهراو منت کوي ، حضرت عمر رضی الله عنه چي په خپلو رعیتوکي یې د یوه ماشوم ژړا هم نه سوای زغملای نویې د کوچني مور ته و ویل : ښځي د الله څخه و بیره ماشوم دي آرام کړه او دی رضی الله عنه بیرته راغلی پرخپل ځای کښینستی ، پسله لږه وخته بیا د ماشوم ژړاشوه ، حضرت عمر رضی الله عنه بیا ورغلی او دکوچني مور ته یې ورږغ کړه : ښځي ! درته ومي ویل د الله څخه و بیریږه ماشوم دي آرام کړه ، بیا ولاړی خو خپل ځای ته لانه ؤ رسیدلی چي بیا د ماشوم ژړا سوه ، حضرت عمر رضی الله عنه دریم وار د کوچني مورته ورغلی او ور ته ویې ویل : ویحکِ ! بده مور را معلومیږې ستا ماشوم ته څه پیښه ده چي نه چپیږي ؟ ښځه نه ده خبره چي له چاسره خبري کوي ویل : یا عبد الله ! دغه کوچني په عذاب کړم ، زه غواړم چي د تي څخه یې پري کړم او دئ تئ غواړي ، حضرت عمر و ویل: ولي یې د تي څخه پری کوي ؟ ښځي و ویل : ځکه عمر د تي ماشوم ته تنخا نه ورکوي ، تاسو ته معلومه ده چي حضرت عمر رضی الله عنه په د مسلمانانو وهر فرد ته د بیت المال څخه تنخا ورکول ، خو دغه تنخابه د هغه وخت څخه شروع کیدل چي کوچنی به د تي څخه پري سو ، نو ځکه ځینو کسانو د تنخا اخیستلو دپاره خپل کوچنیان تروخت له مخه د تي څخه پري کول، کله چي حضرت عمررضی الله عنه د ښځي څخه دغه خبره واوریدل چي عمر دتي ماشوم ته تنخا نه ورکوي

د وار خطابي څخه یې سا لنډه لنډه کیده او ویل :کوچنی دي دځو عمر دی ؟ ښځي و ویل : د اتو میاشتو دی . عمر رضی الله عنه و ویل : ویحكِ ! تلوار مه پر کوه . خیر حضرت عمر او حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنهما دواړه د سهار لمانځه ته مسجد نبوي ته راغله ، عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه وایي : عمررضی الله عنه د دغې ورځي د سهار لمونځ راکړی مګر د ډیري ژړا په سبب څوك د ده په قرائت نه پوهیدل چي څه شی او کوم سورة وایي :او کله چي یې سلام وګرځاوه نو یې و ویل : (بؤسا لعمر ،کم قتل من أولاد المسلمین ) یعني عمر څومره بد بخته دی ! د مسلمانانو څومره اولادونه به یې قتل کړي وي ، بیا یې امر وکړی چي په مدینه منوره کي دي اعلان وشي چي کوچنیان دي ترخپل وخت د مخه د تي څخه نه پري کوی ، موږ د مسلمانانو هرکوچني ته د زیږیدلو د ورځي څخه د بیت المال تنخا ورکوو، چي دا د اولس د خدمت او د هغو داحوالو څخه د ځان خبوني نهایي درجه ده ، او بیا یې دغه امر د ښارونو و ټولو والیانو ته ولیکی . ( أبو الفداء ۱۴۱۶ هـ ج ۴ ص ۱۴۵ ) . د رعیت د خدمت اصل او هغه له عملي بیلګو څخه ورسته دې نتیجي ته رسیږو چي د اسلام له نظره د رعیت خدمت یو شرعي مسئولیت او امانت دی. مشر باید ځان د خلکو خادم وبولي، نه مالك. هر څومره چي د رعیت خدمت په اخلاص، عدالت او امانتدارۍ سره تر سره سي هما غومره د الله تعالی رضا، د خلکو سوکالي او د ټولني ثبات تضمنیږي. دا اصل د حضرت ابوبکر او عمر رضی الله عنهما د خلافت په دوره کي په عملي ډول تطبیق سوی چي اوس همد تطبیق وړ دی. او پر تطبیق کولو یې هغه ګټي مرتبي دي چي په هغه وخت کي وي.

**له نورو څخه د خپلي اصلاح غوښتني اصل**

د ښې حکومتولی یو مهم اصل دا دئ، چي مسئولین یې پر خپل نفس باور نه کوي بلکه د هغه د اصلاح لپاره نه ستړې کیدونکي هڅي کوي، تر داسي اندازې چي له نورو څخه هم د خپلي اصلاح، نصیحت او د عیبونو د بیان غوښته کوي، له هر هغه کس څخه ډیر خوښ وي چي عیبونه یې ور په ګوته کوي لکه چي امام غزالي رحمه الله د عمر رضی الله عنه یو قول را نقل کړي ( رَحِمَ اللَّهُ اِمرَأً أَهْدَی اِلیَّ عُیُبِي ) الغزالي،(۱۴۰۶هـ ) ج ۳ ص ۱۴۳، ابن عبد البر، (۱۴۱۴هـ) ج ۱ ص ۷۷۵ ، الخادمي، (۱۳۴۸هـ) ج ۲ ص ۳۷ .) ژباړه: الله تعالی دې پر هغه چا رحم وکړئ چي زما عیبونه راته وښیي.)

به نورو څخه د خپلي اصلاح غوښتني اصل عملي بیلګه د حضرت عمر رضی الله عنه په دوره کي حضرت نعمان بن بشیررض الله عنه فرمایلي : چي د حضر عمر رضی الله عنه سره په یو مجلس کي انصار او مهاجرین صحابه کرام ناست وو، نو حضرت عمر رضی الله عنه وویل : چي تاسي راته ووایاست ! چي که چیري زه په یو کارکي سستي وکړم تاسي څه کوي؟ ټول حضرات د ادب له وجي خاموش وو، حضرت عمر رضی الله عنه خپله خبره دوه دري واري وکړه نو حضرت بشیربن سعد رضی الله عنه ورته و فرمایل: که چیري تا دا سي وکړل نو تا به دا سي نیغ او سیده کړو لکه څنګه چي غشي نیغ او سیده کیږي، په دې وینا حضرت عمر رضی الله عنه خوشحاله سو وي فرمایل: تاسو هغه خلك یاست چي د امیرپه مجلس کي د ناستي قابل او لائق یاستي! بیاخوهم تاسي هغه خلك یاست چي د

امیر د مجلس د ناستي قابل او لائق یاست ،(کاندهلوي ۲۰۲۱ هـ ص۱۴٦) آمرانوته باید کمزوری ورپه گوته سي ځکه چي د دوی په اصلاح سره امت اصلاح کيږي او د دوی په کمزوري سره امت کمزوری کيږي. زموږ د ټولني حکومتي مسئولين که دغه اصل او عملي بيلگه يې د خپلې اصلاح لپاره يو عملي منهج وگرزوي نو کيداسې چي د الله تعالی په نصرت د مسلمانانو هغه پخوانی قوت، ثبات، تمدن، برم بېرته د ځمکي پر سرحاکم سې او نه يوازي زموږ هيواد بلکي د ټولي نړۍ اسلامي هيوادونه په ټوله معنی مستقل سي او د بې وسی فقر احتياج له غلامی به آزاد سي.

## د اتحاد ساتني او تفرقي د مخنيوي اصل

په اسلامي نظام کي يو اصل د مسلمانانو ترمنځ د اتحاد پياوړتيا او له تفرقي څخه د هغوی مخنيوی دی؛ ځکه چي دکتور علي جرشه ويلي:( د مسلمانوخپل منځي اختلافات د دې سبب سول چي اندلس د مسلمانانو له لاس څخه وو تی) علي جرشه، (۱۴۱۰هـ) ص ۱۰۵) او بل دا چي الله تعالی مسلمانان په اتحاد امر کړي او له تفرقي څخه يې منع کړي دي. لکه چي الله تعالی فرمايې: ( وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيْعًا وَ لاَ تَفَرَّقُواْ ، آل عمرن، ۱۰۳) . ژباړه: او ټول د الله په رسۍ ( دين) ته منگولې ولگوئ او تفرقه مه کوئ. ثعلبي رحمه الله د دې ايت په تفيسر کي ويلي:( و لاتفرقوا) کما افترقت اليهود والنصارى) ژباړه: تاسي داسي تفرق(ډلبازي)مه کوي. لکه ډلبازي د هيودو او نصاراوو. تفرق د يهودو او نصاراوو يو ممنهج وو. الثعلبي،(۱۴۳٦هـ) ج۹ ص۹۲).

د اتحاد ساتني او تفرقي د مخنيوي اصل عملي بيلگي د حضرت عثمان رضی الله عنه د خلافت په دور کي

کله چي حضرت حذيفه ابن اليمان رضی الله عنه د آذر بايجان له جهاد څخه راغلی ، نو سعيد بن العاص رضی الله عنه ته يې و ويل : چي ما په سفرکي يو داسي څه و ليدل چي که چيري پريښوول سي مخه يې ونه نيول سی، نو خامخابه خلك په قرآن کي داسي اختلاف وکړي لکه يهودو او نصاراوو چي په توراة او انجيل کي کړي و، نو سعيد رضی الله عنه ور ته و ويل: هغه څه شی دی چي تا ليدلی دی ، حذيفه رضی الله عنه ور ته و ويل : چي د حمص خلك مي وليدل چي خپل قرائت يې ترنورو ښه گڼي او دوی قرآن د مقدادبن اسود رضی الله عنه څخه زده کړی وو ، او د د مشق خلك مي وليدل چي خپل قرائت يې ترنورو ښه گڼی او د کوفي خلکو همدا ډول وينا کوله ، چي دوی قرآن د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه زده کړی وو ، او بصري خلکو همدا ډول وينا کوله چي دوی قرآن کريم له حضرت أبوموسی رضی الله عنه څخه زده کړی وو ، چي دوی خپل مصحف ته لباب القلوب نوم ورکړی وو ، نو دوی چي د خپل قرائت لهجه پرنوره غوره گڼله ، يابه يې هغه بل قرائت خطاء گڼی، يا به يې د کفرنسبت ورته کوی، د دي وجه داوه چي دوی په عربي ژبه کي د قرآن ويلو په مختلفو قرائتواو لهجو خبرنه وو ، نودا پر يو بل غوره والی او بل ته د خطاء يا کفرنسبت کول د شديد اختلاف زريعه وه ، نو حضرت حذيفه ابن اليمان رضی الله عنه وحضرت عثمان رضی الله عنه ته راغلی ورته ويې ويل :

يا اميرالمؤمنين ادرك هذه الامة قبل ان تختلف في كتابها كاختلاف اليهودوالنصارى في كتبهم ، ( ابو الفداء ۱۴۱۶ هـ جـ۴ صـ ۲۳۳،أثير الدين۱۴۱۶هـ ج ۲ ص ۴۸۲ )

ژباړه : أى د مومنانو اميره دا أمت و ژغوره لمخه تر دي چي دوى داسي اختلاف په خپل كتاب كي وكړي لكه يهودو ، نصاراوو چي په خپلوكتابونو كي كړى وو، نو حضرت عثمان رضى الله عنه له صحابه كرامو سره مشوره وكړه بالأخره فيصله وشوه چي د قرآن كريم يوه نسخه دي د قريشو پر لهجه وليكل شي ، بيانو قرآن كريم پر هغه يوه لهجه اووه نسخي وليكل شوچي يوه يوه نسخه ومختلفو ښارونو ته وليږل شوه لكه چي په مدينه منوره كي يوه نسخه پريښوول شوه ، مكي مكرمي ، مصر ، شام . يمن ، كوفه ، بصري ته هم يوه يوه نسخه وليږل سوي ، او هغه نوري نسخي وسوځول سوي ،( ابو الفداء ۱۴۱۶ هـ جـ۴ صـ ۲۳۲)

چي دا د مسلمانانو د اتحاد او اتفاق يوه عملي بيلګه وه اوپه دي كار سره مسلمانان له تفرقي او اختلاف څخه وساتل سول

فائده: چي كله په هغه وخت كى د مسلمانانو خليفه حضرت عثمان رضى الله عنه قرآن د قريشو په لهجه ليكلو امر وكړى ، او هغه وليكل هم سو، نو بيا يې امر وكړى چي د قرآن كريم هغه صحيفي چي په نورو لهجو باندي ليكل سوي وي هغه راټولي كړي كله چي هغه راټولي كړل سوي ، بيا يې هغه وسوځلي ، په دي موضوع كي صحابه كرامو د خپل خليفه دومره اطاعت وكړئ چي د قرآني كريم هغه نسخي چي دوى په خپل لاس ليكلي وي او په خپلو غوږونو يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي وي هغه نسخي يې د سوځلو لپاره راوړي او بيا و سوځول سوي، خو صحابه كرامو د مسلمانانو د تفرقي او اختلاف څخه ساتلو په خاطر هيڅ هم ونه ويل : او اطاعت يې كړي ،

نو په اوسني دور كي چي اسلامي علماؤ د خپل امير همدغه سي اطاعت وكړي په ځينو هغو مسايلوكي چي د رايې اختلاف سته چي د يوه طرف د رايه د لائل دومره يقيني نه دي لكه د صحابه كراموړضى الله عنهم چي د رسول الله صلى الله عليه څخه چي د قرآن كريم اوريدل يقيني و ، نو بيا به مسلمانان د يو صورة او جسد حيثيت ولري.

او همداډول حضرت عبدالله بن مسعود رضى الله عنه چي كله د منى مسجد ته ورغلى ويې ويل : اميرالمؤمنين عثمان رضى الله عنه د ماپښين لمونځ څو ركعات وكړى، خلكو ورته و ويل : څلور ركعات، نو ابن مسعود رضى الله عنه هم څلور ركعات لمونځ وكړى، نو ابن مسعود رضى الله عنه څخه پوښتنه وسوه چي تاخود رسول الله صلى الله عليه وسلم او ابوبكر او عمر رضى الله عنهما څخه حديث وايو: چي هغوى څلور ركعات كول، نو ته ولي دوه ركعات كوي؟ ده ورته ويل: چي اوس هم هغه وايم: (لكني اكره الاختلاف ) خو زه اختلاف نه خوښوم نو ځكه دوه ركعات كوم. ( ابو الفداء ۱۴۱۶ هـ جـ۴ صـ ۲۳۳.) نو په عموي ډول د ټولي نړۍ د مسلمانانو حاكمان او په خاص ډول د افغاني ټولني د مسلمانانو حاكمان د اتحاد اصل عملي كولو ته بايد لومړيتوب وركړئ؛ ځكه اتحاد د اسلامي ټولني د

ځواک، ثبات، پر مختګ، بنسټ دی. اسلام مسلمانان د یووالي، وروروولۍ او متقابلي همکارۍ لورته رابولي او له اختلاف، شخړو او تفرقي څخه یې منع کوي.

**په ښو کارونو د امر کولو اصل**

د ښې حکومتدارۍ یو اصل دادی چي خلک په ښو کارونو سره امر کول او له بدو کارونو څخه منع کول یو الهي امر دي: لکه چي الله تعالی فرمایلي: (وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ يَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ اُولئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ) (ال عمران، ۱۰۴ ) ژباړه: ( او باید له تاسو څخه یوه ډله وي چي د خیر لوري ته بلنه ورکوي، په ښو کارونو امر کوي او له بدو څخه منع کوي، همدوی بریالي دي. او همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ( من رأی منکم منکرا فلیغیره بیده، فان لم یستطع فبلسانه، فان لم یستطع فبقلبه و ذالک أضعف الایمان). مسلم(۱۴۳۷) ج ۱ ص ۱۲۹). څوک چي له تاسو څخه کوم بد کار وویني، هغه دي په لاس بدل کړي؛ که یې وس نه لري، په ژبه دي منعه کړي؛ او که دا هم نه شي کولای، په زړه کي دې بد و ګڼي، او دا د ایمان ترټولو کمزوري درجه ده. د دې اصل اړوند علامه خلال رحمه الله ویلې: ( ان الامر بالمعروف والنهي عن المنکر خصیصة من خصائص هذه الأمة) الخلال،(۱۴۲۴هـ) ص ۴ ) ژباړه: په ښو کارونو امر کول او له بدو څخه منع د دې امت خصوصیت دی.

په ښو کارونو د امر کولو اصل عملي بیلګې د حضرت عمر او عثمان او علي رضی الله عنهم د خلافت په دور کي

حضرت عمر رضی الله عنه فرمایلي: چي کله تاسي یو بي علم څوک و وینئ ! چي هغه د خلګو بي عزتي کوي نوتاسي پرهغه باندي انکار ولي نه کوئ ؟ خلکو و ویل چي موږ د هغه له بدګویي نه ویریږو حضرت عمر رضی الله عنه و ویل: په داسي ډول خوبه تاسو د قیامت په ورځ د پیغمرانو شاهدان جوړنه سي، حضرت عثمان رضی الله عنه وفرمایل چي امربالمعروف اونهي عن المنکر کوئ ! هسي نه چي داسي وخت راشي چي ستاسو بد خلك پر تاسو باندي مقررسي، بیا د هغو بدو خلکو خلاف نیکان خلك ښیرا کوي هغه به نه قبلیږي (کاندهلوي ۲۰۲۱ هـ ج۔۲ ص۔ ۸۹۱ ) حضرت علي رضی الله عنه به په بازار کي روان وو دوره به ور سره وه ، حضرت أبي مطر وایې : ماته یې ویل : (ارفع ازارك ) لنګ دي در بورته کړه چي هم تقوی ده او هم به دي جامه پاکه وي . او خلکو ته به بې ویل : په معاملو کي قسمونه مه کوی که څه هم په قسمونو به شی حرڅ شي خو برکت به ونلري . علي رضی الله عنه به ویل : چي له خلکو هغه وخت راضي کیږم چي د نورو خلکو حقوق ورکړئ ( ابو الفداء،( ۱۴۱۶ هـ )، ج۴ ص ۳۹۱ ). د دې اصل له عملي بیلګو څخه څرګنده سوه چي په نیکو کارونو امر کول او له بدو څخه منع کول د مسلمانانو د حاکمانو یو مسئولیت دی، د اسلام مبارك او مسلمانانو د تاریخ یوه یو مهم اصل ده چي زموږ په ټولنه کي د مخنیوې ښه زریعه کیدای سي.

**د شفافیت اصل**

بیت المال د اسلامي دولت هغه خزانه ده چې د مسلمانانو عامه شتمني پکې ساتل کیږي. او د هغه ساتنه او شفافیت د اسلامي حکومتولۍ یو اساسي اصل دی، چې د عدالت، امانتدارۍ، اقتصادي ثبات او ټولنې د هوساینې او پر مختګ سبب ګرځي.

د شفافیت د اصل عملي بیلګه د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت په دور کې

کله چې یوه ورځ مدینې منورې ته د ځینو ښارو څخه مالونه راغله، د حضرت عمر رضی الله عنه لور ام المؤمنین حفصه رضی الله عنها خپل پلار ته ورغله چې له دغه مال څخه یو حصه را واخله او په ټوکو کې یې پلار ته و ویل: یا امیر المؤمنین په دغه مال کې ستا د أقرباوو حصه کومه ده؟ او الله جل جلاله د اقرباوو سپارښتنه کړې دی، پلار یې په جدیت سره ورته و ویل: لورې ! زما د اقرباوو حق زما په مال کې دی مګر دا د مسلمانانو مال دی ورځه کورته ولاړه سه( علمي، ( ۱۳۹۱ هـ )ص۲۱۸ ) . او بل دا چې د حضرت عمر رضی الله عنه ښځې د ده سره د مسلمانانو په کاروکې کومک کاوه ، چې یو وخت د غنیمتونو په جمله کې د مسلمانانو بیت المال ته خوشبویې او عطرونه راغله ، نو حضرت عمر رضی الله عنه خپلې ښځې ته و ویل : عام خلک د دغو عطرو څخه فایده نه شي اخیستلای چې ورتقسیم یې کړم ، نو دغه عطر پرښځو خرڅوه چې پیسې به یې په بیت المال کې کښیږ دم چې عامو او ټولو مسلمانانو ته یې فایده ورسیږي ، نو دحضرت عمر رضی الله عنه ښځې د خرڅولو په وخت کې هغه خوشبویه شیان لکه عود ، کافور بخور په غاښو ماتول ، مګر کوم چې عطر وه هغه یې په کوچنیو سیښو یالوښو کې اچول ، نو خود به یې لاس یو څه په ولړل شو او هغه لاس به یه په خپل پړوني پوري ومووړی ، حضرت عمر رضی الله عنه چې کورته راغلی پر خپله ښځه یه خوشبویې حس کړه ، ویل : دغه خوشبویې د څه شي ده؟ ښځې یې حال ورته و وایو: چې عطر خومې نه دي اخستي، مګر هغه چې پرلاس مې پاته وه هغه مې په خپل پړوني ومُښل، حضرت عمر رضی الله عنه و ویل: د مسلمانانو عطر ته اخلې او ځان وربادي خوشبویه کو؟ یا والله ، نویې د خپلې ښځې پړونی واخستی په اوبوکې یه منځی یا پرېولی او بیایې بویوي ، منځی یې او بویوي یې ، ترځودایې یقین سو چې اوس نو د هغه ښه بوی هیڅ أثر نه دی پاته او ویل : یې والله تر نن ورځې ورسته به بیا هیڅکله د مسلمانانو عطرو ته لاس هم ور نه وړې . ( علمي ۱۳۹۱ هـ ص۲۱۹ )

که زموږ په افغاني ټولنه کې د نني عصر مسؤلین د بیت المال ساتنه او د هغه سره احتیاط د خلفای راشدینو رضی الله عنهم په ډول وکړي، نو ډېري ګټې به و لري، لکه د عامه شتمني خوندي کول، د عدالت تأمین، د فقر کمول، د دولتي خدماتو پیاوړتیا، د خلکو باور زیاتیدل، د فساد مخنیوی، اقتصادي ثبات.

**مناقشه**

د ښې حکومتولۍ هغه اصول چې په اوسني وخت کې په نظامونو کې د بریالۍ حکومتولۍ لپاره مهم ګڼل کیږي، د اسلام مبارک دین څورلس پیړی له مخه په جامع ډول بیان کړي دي، د عدالت، مشورې، امانتدارۍ، شفافیت، او د رعیت د خدمت اصول نه یوازې په اسلامي منابعو کې مطرح سوي، بلکې د خلفای راشدینو رضی الله عنهم په دور کې یې عملي بڼه هم موندلې ده. د دې څېړنې پایلې تر ډېره له

پخوانیو اومعاصرو څېړنو سره همغږي لري، پخوانیو اسلامي علماوو لکه الماوردي. ابن تیمیة، په خپلو آثارو کي عدالت. مشوره، امانتدارۍ، د بیت المال ساتنه او درعیت د حقونو تأمین د اسلامي حقومتدارۍ بنسټیز اصول بللي دي. د اوسنۍ څېړني موندنو هم وښودله چې دغه اصول د خلفای راشدینو رضی الله عنهم په دور کي په عملي بڼه تطبیق سوي وو. او همدارنګه معاصرو څېړنو چي د ښې حکومتولۍ په اړه تر سره سوې دي. شفافیت، مشوره، د قانون حاکمیت عدالت، د بریالۍ حکومتولۍ اساسي عناصر ګڼلي دي. د دې څېړني پایلي څرګندوي چي یاد عناصر د اسلامي حکومتدارۍ په نظام کي له پیله موجود وو، د خلفای راشدینو رضی الله عنهم د حکومتونو په عملي سیاستونو کي په روښانه ډول لیدل کیږي. له همدې امله د دې څیړني څخه څرګندیږې چي د راشده خلافت د حکومتولۍ اصول نه یوازي تاریخي ارزښت لري، بلکه د معاصرو اسلامي اداري او حکومتولۍ لپاره هم عملي او ګټور لارښود ګڼل کیږي او د اسلامي ټولنو د اصلاح او پر محتګ لپاره ترې اغېزمنه استفاده کیدای سي. په نورو څېړنو کي همدا اصول یواځي په شرعي یا تاریخي لحاظ تشریح سوي. خو په دې څېړنه کي عملې بیلګې ور سره زیاتي سوي چي دا یو نوښت دی.

**پایله**

د څېړني له تر سره کولو ورسته لاندې پایلې ترلاسه کیږي:

اسلام د ښې حکومتولۍ لپاره جامع او متوازن اصول وړاندي کړي، د ښې حکومتولۍ اساسي سرچینې قرآن کریم او نبوي سنت دي، چي د اسلام سیاسي نظام بنسټ پرې ولاړ دی، د خلفای راشدینو رضی الله عنهم دوره د اسلامي حکومتولۍ تر ټولو غوره عملي نمونه ده، چي په هغې کي د اسلامي اصولو تطبیق په واضح ډول لیدل کیږې، هر کله چي عدالت، مشوره، امانتدارۍ، مسئولیت او د رعیت خدمت زموږ په نظامونو کي پلي سي، نو د ټولني ثبات، سوکالي او پر مختګ تضمینیږي او همدا هغه اصول دي چي د معاصرې ښې حکومتولۍ لپاره هم بنسټیز ارزښت لري.

**وړاندیزونه**

۱ ـ اسلامي حکومت دې د عدالت، شفافیت، مشوري کول، مشري مسئولیت ګڼل نه امتیاز او امر بالمعروف او نهی عن المنکر اصولو ته ځانګړي پاملرنه وکړي.

۲ ـ د خلفای راشدینو رضی الله عنهم د حکومتولۍ تجربې دې د پوهنتونونو علمې مرکزونه په نصابونو کي د مطالعې او څیړني موضوع و ګرځول سي، او د اسلامي حکومتونو په اړه دې نورې علمي او مقارنې څېړني تر سره سي ترڅود معاصرو اداري ستونزو لپاره اغیزمنې حل لارې وړاندي سي.

۳ـ د حاکمانو او مسئولینو د روزنې په پروګرامونو کي دې د راشده خلافت د عدالت، امانتدارۍ او خدمت نمونې شاملې سي.

**اخځلیکونه**

۱ ــ قرآن کریم

۲ ـ اثير الدين، علي ابن أبى الكرم محمد بن محمد ابي عبد الكريم بن عبدالواحد الشيباني،( ۱۴۰۷هـ) الكامل فى التاريخ، دار الكتب العلميه ـ بيروت .
۳ ـ أبي الفداء، اسماعيل بن كثير الحافظ القريشي الدمشقي (۱۴۱۶ هـ ) البداية والنهاية، بيروت ، لبنان
۴ـ أبي نعيم الاصبهاني ، احمد بن عبد الله ابن احمد ابن اسحاق ابن مهران ، (۱۴۱۹)معرفة الصحابه ، رياض ، دارالوطن للنشر،
۵ـ العفاني، الدكتور سيد بن حسين (۱۴۱۷) صلاح الأمة في علوالهمـــة ، مؤسسة الرسالة ـ بيروت،
۶ـ السيوطي، جلال الدين عبدالرحمن ابن أبي بكر الامام الحافظ رحمه الله (۱۴۳۴) تاريخ الخلفاء، دار المنهـــاج، بيروت لبنان.
۷ ـ البخاري، محمد بن اسماعيل،(۱۴۳۷هـ ) صحيح البخاري، مكتبة البشرى.
۸ ـ ـ جرجاني، على ابن محمدبن علي،(۱۹۸۳ ) التعريفات، القاهره، دار الديان للتراث،
۹ـ علمي ، الحاج عنايت الله ( ۱۳۹۱ ) خلفاء الراشدين ، مكتبه غفاريه ،كند هار .
۱۰ـ كاندهلوي مولانا ، محمد يوسف (۲۰۲۱) حيات الصحابه رضى الله عنهم ، مكتبه عمرفاروق رضى الله عنهم ، پشاور .
۱۱ ـ التشادي ، شريف بن صالح ، (۱۴۴۳هـ) االشامل في التعريف بالصحابة الأماثل رضى الله عنهم ، مبرة الآل والأصحاب ،
۱۲ ـ مولنا محمد شفيع رحمه الله ( ) معارف القرآن، لاهـــور، مكتبة حنفية،
۱۳ ـ ابن أبي شيبه، ابوبكر عبد الله ابن محمد، (۱۴۲۵ هـ) الصنفف ابن أبي شيبه، الرياض، مكتبة الرشيد.
۱۴ ـ المظهري، قاضي ثناء الله،(۱۴۲۵هـ) تفسير مظهري، بيروت لبنان، دار احياء الاراث العربي.
۱۵ ـ السمرقندي، ابوالليث، نصر بن محمد بن احمد بن ابراهيم، (۱۴۱۳هـ) تفسيرسمر قندي، بيروت لبنان، دار الكتب العلمية.
۱۶ ـ جرجاني، على ابن محمدبن علي،(۱۴۰۳هـ) معجم العريفات، قاهره، دار الديان للراث،
۱۷ ـ مسلم ابن الحجاج، ( ۱۴۳۷هـ)، صحيح مسلم، مكتبة البشرى،
۱۸ ـ الغزالي، أبوحامد محمد بن محمد(۱۴۰۶هـ ) احياء علوم الدين، بيروت، دار المعرفة.
۱۹ ـ ابن عبد البر، يوسف ابن عبد الله، (۱۴۱۴هـ) جامع بيان العلم وفضله، المملكة السعودية، دار ابن الجوزي.
۲۰ـ القاري، علي ابن سلطان محمد، (۱۴۲۲هـ) مرقاة المفاتيح، بيروت لبنان، دار الكتب العلمية .
۲۱ ـ الجزائري، أبي بكر جابر، (۱۴۱۰ هـ ) أيسر التفسير لكلام العلي الكبير، السعودية، الدعاية و الاعلان.
۲۲ ـ النسفي، ابي الحفص نجم الدين عمر بن محمد بن احمد، (۱۴۴۰ ) بيروت لبنان، دار للباب.
۲۳ ـ الذهبي، شمس الدين محمد بن أحمد سير( ) أعلام النبلاء، پاكستان، مكتبة الوحيدة.

٢٤ ـ العــواضي ، عبد الله عبده ، ( ١٤٣٦ ) آداب العلم و المتعلم من فتح الباري، صنعاء، مكتبة الجيل الجديد.

٢٥ ـ الخلال ، ابي بكر احمد بن محمد بن هارون، (١٤٢٤هـ) الامر بالمعروف والنهي عن المنكرمن مسائل امام المبجل أبي عبد الله احمد بن حنبل، بيروت لبنان، دار الكتب العلمية.

٢٦ ـ طقوش، الدكتور محمد سهيل، (١٤٣٢هـ) تاريخ الخلفاء الراشدين الفتوحات و النجازات، بيروت لبنان، دار النفائس.

٢٧ ـ الخادمي، أبوسعيد ، (١٤٣٨) بريقة محمودية شرح طريقه محمدية، كوئته، مكتبة العلوم الدينية،

٢٨ ـ الدكتور، علي جرشه، (١٤١٠هـ) حاضر العالم الاسلامي، جده، دارالمجتمع.

٢٩ ـ آوسي، ابي الفضل شهاب الدين السيد محمود (١٣١٥ ) روح المعاني، بيروت لبنان، دار الكتب العالمية.

٣٠ ـ الثعلبي، أبي اسحاق احمدبن محمد بن ابراهيم، (١٤٣٦هـ) الكشف و البيان عن تفسيرالقرآن، جدة، دار الفسير.

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Helmand University

# Leed Social Science Academic Journal

Volume:3 Issue: 1 Year:1405